چه د عشق څراغ ی نوی پگوگل کښ | هغه زړه لد مرده نوی گوردی

زه یونس چه شا پمینه کښ رسوا شوم
اوس پد بیارتد جاروا تد راتد پیغوردی

معمیات تہ باهم یوشی

خوچہ نیمہ ب ی ملک ... سی ... ی ... دیوشی نمکی ... سمہ ... حرام شد

... سر مد شعر ... محمد گل مسعود سپی روایت کا رحمت ہوتک چہ پدوران

دسفر ... محمد گل ... مسعود زوی محمد داود ویدل سو چہ پوہ شا او ہر

... بدی ویلی او دیوہ بدند دد نحو رحمت تربور رانقل کا چہ دلتہ ی کا ...

بدید

چہ ... پدینمہ شپہ ... بیل شو	اور ... باندی بل شو
... لوڈی غلم لمانہ بل شو	اور باندی بل شو
بنظلی ... لمانہ ...	سوی پد اور سید
دبیتہ ندسو راپ کښی ورتہ مرض ... بیل شو	اور باندی بل شو
... ی سنایت درپوری اور کی ... ی سکور ...	وریت دی پاور کړ چہ
... اسپی غنہ ی تا پور ... بین غل شو	اور باندی بل شو
شد ... خدای ... یار ... محمد گل ...	تاتہ تل تل ترا پی
... پواو بلا ... بل شو	اور اباندی بل شو

همی روایت کا چه د خوشحال بابا خټک ترمیراثه پس عبدالقادر خان په ۱۱۳۰ هجری کال کی
لیدل شوی و چه د خپلو د قوم نخوا کال تدراغلی او د ما روانو دتیریدلو خبری ی و ښکښی
پرخوا کولی و ایی چه عبدالقادر خان منشلی او کړندی خان و د خټکو خانان ی تابع و او د د
تاریخ په سنه ۱۰۶۱ هجری ۲۳ د جمادی الثانی واقع شوی و او می چه د غه کتاب کوم ما تد
نه د ښکاره چه دا خان به د وفات شوی وی که نه خو هسی کښیم چه د وفات سوی بوی خو چه
اوس ی چا څرونه نه خبر نه ی را کړی که بد مړوی خدای دی وبخښی هسی وایی چه
عبدالقادر خان په هندوستان کښی هم عمر وند تیر کړه او هلته په نقشبندیه طریقت کښی د
سو منعبد او پارسا سړی و پخانی او مشر توب کښی اوصاف کا او لخدای به ی ترس کا
عبدالقادر خان د شعر دیوان لری او د یوسف او زلیخا قصدی په ۱۱۱۲ هجری نظم
نصیحت نامدی هم په پښتو وکښلو او د شیخ مصلح الدین سعدی گلستان ی په پښتو راوړلو
په سنه ۱۱۱۵ هجری یو بل کتاب نظم کا چه نوم ی دی حدیقه خټک د غه کتاب ما په سنه ۱۱۳۰
هجری له صدالزمان بهادر خان وبیدچه د مولف په سنخط وبهادر خان دامت شوی
همی روایت کا چه په دیره ما د غه کتاب وموند چه دیو خټک پضبط کښی و نقل کا
چه عبدالقادر خان لپطریقت نقشبندی کښی خلیفه هم او د پیر خلافت ی کا او د

شادی کا شیخ رحمانی سعدی لاہوری بخلافت تاملی و د عبد القادر خان شروند دیر
دی فواب محمد انور دده سلی غزلونه لکاهل راوپل اوس زه دلته د حدیقه تحفه دده

یو څو شوونه نقل کاندم

غزل

دریغ نور غمونه ذلیری شولد د ل ی
نسیم وصل دگل بیا مونده خاموش شو
بنده پره ژبه د قلم شوه پد مجلس کښ
عاشق بیخ نده خبر د مشق لسوز
د فانوس پد پرده شراغ عدد پتیږی
پکاتم د پرواند بهری ځان وسو

پکښ غم د څپل اشنا وی تل تتل
تری محروم شوه پره شو کاندی میل
شمع تاپره د څپل سوز قصد دیل
د النبه پری معشوقی د لگول
کدی مخ پد پلو پټ د مالیدل
شمع اور پد تندی بل کړ گرزیدل

درسته شپد پنا رو عبد القادر کښ
تد بی عمد پد پالنگ باندی څمل

غزل د لد ایضاً

شد خوښ د پادشاهی پتخت نشلو
پ می اوس کړی پخطلو ورو ړی ردی
پیښدی همیشد دل آزاری وی
همیشدی غم کوه د پر یو تلو
غافل مشد د یو ستر گو د و تلو
د بغو مخن ندی د کتلو

لکه

خدمتگری چه زردوزد جامه کبر | چه غاشیه ی اطلس دا
داجل دسورت قامت نا کهانی دی | چه بیخ کوی نخدچیزی

بخدز په عبدالقادر چه مرده وی
یکوکل دنند ندی د سا تلو
ومن رباعیا تلد

وقت دخزان وومی لیدل | یوشو لبلبی چه ژړه یدلی
نوارې نښتدوی ویمی سرای | چه بل گلونو وپاتیدلی

ذکر د صدر اکابر دوران بهادر خان ادام الله بقائه پدی دوران بقعه مشهوردی پدبهادر یې اوتوریالیوالی معروف دپادشاه ظل الله بابر او دښکروسا دشال او بوب کلاوی ی فتح کا او دیرې ی ضبط کا دبری سمندی سرخواند چه کا بغدخای اخلی او بری ی لرازل پدبرخدی بقعه ارکښی نوم خلق پیژ او محتاجان او فقرای پکرم او سخاوت مابده دی وجود لاس ی زر بخش دی هرکلد دغریبانو دستگیری کا پادشاه عالم پناه شاه حسین ی پدرخطاب کا او عوام ی پدامیر الامرا یادکا خان عالیشان پدعلوموکښ عالم دی او پداشعار بی نظیر شعرا او علماء پلاس دکرم پالی او پیکښلدی مجلس لدی لطایف خالی نوی

محمد بخش پدوران طفولیت دی اوپه ښوندنه پدعلما، تدحاتم دی بحمدلسفره راسی علماء او شعرا سیلمدکا او دوی تدښوندنی وکړه خالق تعالی دداکریم دوران اوحاتم زمان تردیره فروندی، ساتی آمین یارب العالمین بسی وایی کاتب الحروف محمد هوتک غفرالله ذنوبه وستر عیوبه چه خان عالی مکان دوی کتاب دپاره لښکلو اشعارو فخر ماتدیوه بدلدراړه چه دنقدی ثبت کوم چه کتاب لدذکر خیردوی حاتم زمان خالی نوی اوهر څوک چه دی ولولی دعاوته وکاښه بدلد داده

بدلد

بلبلتون دزوردی ترلیمونی سهارسنم څاخی — لکه شبنم څاخی
دامړد یاقوت می پلمن کښ ستا پغم څاخی — پدغم الم څاخی
گوره لیلی یاران داه ښوستا پدچم څاخی — څنګه پرچم څاخی
راغله لیلی پدشینکی خال نخا پد گلوکوی — پدسرو سنګلوکوی
سهارچه وزی سیل کا بزغ پد بلبلوکوی — گل پد اوربلوکوی
ملالی سترگی ی کاقد پدویر ژلوکوی — زیب پد کجلوکوی
دژوبل دیره وینی پدهرگړی هردم څاخی — لکه شبنم څاخی
سنبلی نجلی دباغ پلورمحمد نخا مدلکوه — عاشق رسوا مکوه
وریت سوی زړه می دی سین پوری خندا مکوه — رانه جفا مکوه

زه یم پتنگ تری دیوه ما جلبلا مدکوه | نور ظلم بیا مدکوه
یم ستالد عشقد لیونی پر ما ما تم شا تی | غم او الم شا تی

ذکر د شاعر حقیق ملا محمد صدیق پوپلزی پدا رغسان کی اوسی دیار محمد پوپلزی
زوی دی او دی زمانی څوان شاعر دی په عر دروښت کلن دی صرف ونحو ی
پر ملا محمد نور بریخ ویلی دی په فقه او منطق هم پوهیږی کلدپه قندهار تدراسی
کاتب الحروف ی وینی او مجلس درسره کا عشقی څوان دی او زړه ی لدلاسه ایستلی پخپل
محبوب پسی ژاړی زاری کا گریانی کا د دمن زړه لری او ستر گی داوښکو دکی لری
مینی سی پدا رسوی دی چه لکوره کلی ورک وی سوزناکی بدلی لولی او کلدپه دډندا نو
پدډلد کښینی مجلس ژړوی او محجن زړوند پخپلو نارو غلبلو سوچی زماندد ه
پر څوانی افسوسوند کا او عشق ی جنون تدرسیدلی دی بالبداهه اشعار وایی او
دزړه درد پدسوده کوی یوه ورځ دکاتب الحروف پلکورکښی واوما ی دحال پوښتنه
کولد زړه پخوالد کښیوت ژړلی او دابد لدی بالبداهه وویلد

بدلد

لکد بلبل چه بیلد گلد بل ارمان نلری | سهی بی یاره بلد سیلد عاشقان نلری
چه ژړا کاندم بلد یاره بل مطلب نلرم | چه سهی سوریمد پوښتنو بل سبب نلرم

بی یار نورشه نعوار مد نور مطلب نلرم
یه څوک مین سی بی لدیار بل ارمان نلری

تر تاپه لکان قربانو مدای نیاز مند یار
تل دی نخوند گلو مدای نیاز مند یار

لستر گواد بنی تو یو مدای نیاز مند یار
زړه می بی تاپدیو ساعت دمدا و توان نلری

که تدمی وژنی که پریږدی اختیار خو تاړه دی
غم د پیدا ندی بلپچاړه خاص مارده دی

زړه لدراغلی دی میلمه سا بیګاړه دی
وزړه لکور څخه تګ پدې شیخ شان نلری

ذکر د برګزیدهٔ سبحانی ملا پیر محمد میاجی ملا پیر محمد هوتک د ملا سرور مخفور
زوی دی چه ملا سرور لدمیا فقیر الله صاحب څخه استفاضه کړې ده او ملا پیر محمد لخپلد
پلار عفیض وموند د علیین مکان حاجی میر خان سره پیچګونښ ملګری و چه د شاه ظل الله
ورور شاه محمود ادام الله دولتهم اصفهان ته ولاړ ملا پیر محمد هم ی هلته وغوښت
اولد اتفاس میمون ی استفاده کا او خلق د خدای شریعت او د امام اعظم صاحب
مذهب تدرا بولی نقل کا چه پداصفهان کښ میاجی صاحب لدرافضو سره مباحثه کا
او پدد لایلو علمی دوی ملامت کا لکه چه علماء روم چه پراصفهان کښ دی هم د
ملا پیر محمد صاحب عزت کا او پیر افغان ی لقب کا میاجی صاحب لعلم اخلاق
کښ یو کتاب کښلی دی چه افضل الطرایق ی نوم دی او یو بل کتاب د عقاید و او
اخلاقو بیان کا چه بل کتاب هم لری چه القرایض فی رد الروافض ی نوم دی چه

افغانستان کتابخانه‌ی حکایت کتابی دی چه زه‌ی له‌هغه کتاب دلته مثبت کاندم چه په دی کتاب کښی یادګاری دی

حکایت

شیخ متی چه خلیلی و
دی لږ آره لوی ولی و

یو وه ورځ روان پرلار و
لوی څښتن پداستغفار و

کړده ذکر د غفار
یو شپید نو اوزګار

پردی لاروی تیرږ ګټی
لاری محکمی دی پرپټی

دیری شپی راغی رویدار
چه ی صاف کړ لږ لار

یو دښمان به آبادی کړه
شپید په شپید به ی خواری کړه

ده بدلید پټوره شپه
شیخ متی په زیار انتد

لږ اصدبه بیزار و
بیا تولد شپید به هم بیدار و

یو وه شپید راتیر لیار سو
شیخ متی تد پګفتار سو

ای وخدای رویدار څه کړی
دومره زور زحمت پرځان کړی

تد باور ری د ولیانو
تد قدوه د صالحانو

ستا د رخساری سره زردی
د هر چا کحل البصر دی

پښو پښوی تر بیخ اب
په زحمت په اضطراب

پاکوی دلاری گیتی | پدی نخاورو شدی گیتی
داسی دوی شیخ مستی | دمولا بعشق بیتی
چد خدمت د خلق الله | یو گړی پدیوه ساه

ترهر څه بهتر دی وورده
زده کړه دا خبره گوره

ذکر د شاعر خوږ گفتار الهیار افریدی عبدالعزیز کاکړ سهی روایت کا چه دا شاعر پدی بوری کښی اوسی اوس د څلویښتو کالو پهمړ دی دیوان د شعرلری کلام ی شیرین دی لکه عسل ماندی عبدالعزیز کاکړ دغه غزل را کا چه پهپلی کتاب کښی ثبت سی

غزل

چه ستا پغم کښی بند یوان یم را بهر بد نشم | د بلیتون او نبی تو یومه بی پر هر بد نشم
ب دی لتاړ د عشق پغم کړه چه زما حال وویني | شنډه بی بړ وند عشق دی هیڅ پر بر بد نشم
نړدی پروت یم دگدا پهخیر نظر نکوی | کدمرمد هم بی ینا زیاره ستا نظر بد نشم
اودی دینی راته بل کا سیر بی وریت دکړم | ستا د وصال پر اوبو سوړ سوی خیګر بد نشم
کد جفا کاندی کد وفا پروت دی و در ته یمه | ستا د دبار خبر مخ نکړم پدبل در بد نشم

الهیار ولاړ دی پد دبار نظر دی نخواږی لیلی
کدمی هر څورتی شتری زه پر صحرا بد نشم

ذکر

ذکر د صدر دوران بابو جان بابی ذکر م خان بابی زوی دی چه پدا لغز کښی
اوسیدی هغه وقت چه حاجی میر خان علیین مکان پقندهار کښی د ظالمانو لښکرمان کا او
گرگین خان ی واژه بابو جان بابی ار کلات د یر غښتلی راوستل اولد ماشوری د
قندهار سنار حصار د ینو او هغه وقت چه ی گرگین خان مرکانو ی پر کلات کښی د حاجی میر خان
د رخوا حکومت کا هسی وایی محمد کاتب الحروف چه پدکال ۱۱۳۴ هجری چه شاه محمود پادشاه
د پادشاه دوران شاه حسین وزور لښکره کاوه او اصفهان قدی د یر غل غریمت و کا
بابو جان بابی سره د خپلو غښتلیو څو انانو چه د ری زره قندهونک او توخی او ترکی او
غلجی اگا خیل راغلل قندهار تد او د شاه محمود سره ولاړل اصفهان تد یه جنگو کښی بابو جان
بابی هسی میراند و کا چه رستم دوران ی هیر کا بابو جان د میا جی صاحب شاگرد
مرید و او په ۱۱۲۹ هجری ی پدشنوی د شهاد و گلان هغه قصه نظم کړه چه
پښتانه ی نقل کا په مجلسو کښی د کتاب قصص العاشقین نومیږی او بله بنه شنوی
ری په دغه کتاب کښی د عشق توصیف کا او هسی وایی

مثنوی عشق

عشق یو هسی توریالی دی | چه پر هر څای ی بری دی
د عشق اور هسی سوزان دی | چه سو څلی ی جهان دی
زړه بی عشقه کلد زړه دی | چه بی عشقه زړه دمړه دی

ندی عشق پدیوه رنگ | کله صلح گهی جنگ
پتاند کاندی متل | چه دی نوبر ترشات عسل
چه بی عشقه سرکه دی | تش بی مغز یولاده دی
زره بی عشق پکار ندی | هیم هر زره سزاوار ندی
چه دعشق وکا خبری | کری یغوبه داهر غلری

دپاکا نوعشق سزادی
امانت دادمولادی

کرد افصح دوران ریدی خان مهمند ریدی خان زوی دی دغیاث خان او دمسعود خان مهمند لمسی دی چه کلی دمهمندی پناه دبالا سی غیاث خان د حاجی میرخان علیین مکان همراز او ملگری واوریدی خان اوس تذکره سری او د آشنا یانو همباز اودمساز شاعردی دپادشاه ظل الله پنځ کښ عزت لری اودشوکت اوعظمت خاوند دی پرآشنا یانو مهربان دی اودکاتب الحروف مجلسی دی اشعار ی نخوابه دی او: بلاغت علوم سی لوستی دی پرفقه اوتفسیر اوصرف ونحو کښ هسی سند اوپوره لوست لری چه طالبان ی حل دمشکلا توشئی کاریدی خان په ۱۱۳۶ سنه اصفهان ته ولاړ او هلته ی دشاه محمود سره صحبتونه وکا بیا قندهار ته راغی دیوکتاب ی پشرح دحال او جنگونه دحاجی میرخان او شاه محمود وکښلی دا کتاب به

شلوارزره بپتوند دی لزم ی دی محمود نامه کلد چه ی دیا دشاه ظل الله پنج کبس
ولوست زر طلادی صلد و موند لد یطلع کبنی ی هسی جواد یت پروت دی چه سعد
صلدی پیو توره ی پر یارانو او آشنا یانو نثار کره اوریدی خان غزل او مثنوی
اورباعی پنجل دیوان کبس لری او محمود نامه دی هسی خوب کتاب دی چه اکثر پښتانه
ی همجلسو کښی لولی دگرگین خان گرجی دوژلو وقصد اوداصفهان دفتوح تو نقلوند
لتول کښی ستد هسی وایی محمد کاتب الحروف چه مالد ریدی خان هم درخواست وکا
چه چه دی کتاب کښی دمحمود نامی تخه دیره برخه ثبت کاندم ریدی خان هم ماته
دکتاب یو باب راکا چه دگرگین خان دوژلو قصد ده او هغه ما دلته دکښل توفیق الله تعالی

مثنوی نقل لد محمود نامه تخه دی

پدبیان دوژلو دگرگین خان او مدح وصفت دباجی میرخان علیین مکان

اوس به نو ناته حکایت کړم دښو	خوښ روایت دگرگین خان دوژلو
چه میرخان تلی اصفهان تدوند	مخ ی مکی دپاک سبحان تدوند
پاچاتی عرض کړ قول اقوال دپښتون	دگرگین ظلم بد احوال دپښتون
پاچا ویل زه نسوای کولای چاره	دگرگین خان ظلم ستم دپاره
کدی معزول کړم قندهار د میرویس دی	هورو ستم او خپل شعار ندپریږدی

گرگین خو گرگ دی گرگ خو ظلم سکوی
وینی تو وینه هم پسوند شیری

زه هم خالیف یم چه بد تکریم گرگین
نا مسلمان دی ارمنی دی بیدین

ند په اسلام کی لحان پابند گنهیز
ند نصرانی ند لا عیسی پیر نید

بیدین م زه چه خدای کړی قهر بنکاره
د سلطنت پر نا کوم سی تیاره

میر خان ویل ای حسین پاچا وگوره
حال د حاکم او رعایا وگوره

گرگ د ایلد کې پرمد سو شبان
جور و ستم کا نه ی بجید گرگین خان

مونږ لد طاقت نسته چه کړو بند یا تی
صبر پر ظلم د ظالم ارمنی

د اخلورم واردی راځم سلطان
عرض د ظالم لدلا سه کړم سلطان

کد پاچا نکړی داد خواهی د مظلوم
ظالم حاکم کا ظلم دیر پد محکوم

جور چه د پیر سی سلطنت سی برباد
ظلم قصر پینا ښی بنیاد

عربید الملک یبقی مع الکفر ولا یبقی مع الظلم

کافر کولای سلطنت سی مدام
مگر ظالم څونسی کړای سلطنت

چا تد چه زړه ی وی پهرو دان
د خدای عیال گنهی پر مخکد انسان

سلطان د اوره پښی غوږ د اوینا
نکړه ستم د خلق الله پهر چا

دستمگاره پای به رانی وی خراب | د ظلم اوری کا پخپله تراب
د مظلوم آه د اسی کاری وی گوره | چه اوری نخی د ظالم لکوره
لمبی به بلی کا د ظلم پکور | قوله بد کاندی بلینوا پدی اور
نا یی ظالم چه رحم وکا پخان | پ ظلم خوار نکړی خپل ځان او جهان
سلطان گوره پر خان رحم وکړه | خپل کلی کور چه جور مدور انخوره
پا پخا قدهی دنیا وکړه میر خان | خو غوښ ی ندوا ور پدوله پخان
گرځین ی پر لیښو قندهار کی ظالم | نښی کړ دفع لاس دده له عالم
گرځ ی شپاندکا چه کړی خوار رعیت | د گرځ پخیر خیری پ ظلم د وحشت
میر خان خو لږدی د لا پ مجاز له چه کړی | رسول د خدای تد پر اړی د اد خواهی

د اد خواهی د میر خان پحضور د سید الانس والجان

ولا پری د شپی د پیښور پکا فریاد | رسول د خدای تد چه سو قوم برباد
سته پر امت راغی د ظلم دوران | واوره رسول د دی قوم فغان
پښتون خو ستا پر نامه خان کړی فدا | ای غیر انا سد واوره تدی ندا
وتر غوره دوی تد د ظلم له لاس | گرځین ملنځ د پښتون د باس

تا پیامدی کلمد کوی پښتون — نه بسی بیکلد تاندر استون
زګ وژوندون سو دا سلام دپاره — ستا دربار ستا دسلام دپاره
مدمو کړه هیر خیر الوری رسول — فخر کونین نور الهدی رسول
او ښکی حی ثاحی پر دربار یم ولاړ — قوم سو پاورد ظلم ټولد لتاړ
یو ولد نظر وکړه پر مو ژبه سوه — وظالمانو قدر ټوبد یو پړه
ستا لطف و مهر دی شامل پر جهان — هر خراب زړه دی ستا پسې مهربان
لدستا نظر نوی خراب سو پښتون — پاورد ظلم تور کباب سو پښتون
راغلم لدلیری ستا دربار تد نبی — قدمی شفیع سد خدای غفار تد نبی
پړه پر پښتون قوم نازل کا رحمت — کړی ی خوندی ناموس پښتو مرحمت
لاس د ظالمی لګ یوان کا لنډ — وچ سی د ظلم دګند و خیرو د نړ
ستا شریعت سی ټینګ ټمنځ د پښتون — ورک سی بیدا د او کم سی نرخ د پښتون
دا می دی سوال ولاړ د در تد یمد — محتاج د تش و لږ نظر تد یمد
د قوم حال کړم در تد عرض پاد ب — قدی یاد ورد کل عجم او عرب
بیلد تا نظری پښتون خوا لګر — قدی ملهم د خوبزو زړ د پړه
و ثر غوره زمږ ناموس لد بیداد — کړه بی ناموسو ظالمانو بربا د

سر کذد اچو رتذ مو بحال وکورد | د ظالم ظلم بد احوال وکورد
ندی لتا شرم و حیا ستد نبا | ندشرم کا ندی لد عیبی ارمن

عرض حال و تاتد پیشوا
بلخوک مونستد خوالکر پد نیا

خوب لیدل د حاجی میر خان پمد یند طبیب کښی اوزیری د بخات د ظلم

چه میر خان سمع عرض ما حال د ظلم | هغه شپید مات سو تره وال د ظلم
میر خان بخوب ولید صدیق اکبر | چه ورسره حضرت فاروق و عمر
وی ای بیمین بزیری لور د غم ملکوه | قوم د خلاص سو کورت ماتم مکوه
ولا پسند قوم تد وازیری کړه تر | چه د ظالم سو کم نقصان او ضرر
پښتون بد خدایکاله ظالم آزاد | ندبسی ننګدا و ناموس ی بر باد
خدای بد دا قوم کا پر هم ودان | نوم بد ی وینه مجاهد پر جهان
تل بد د خدای بد بندګی کوی لور | خوله بنی نکا مړ بد تلپید و رخور
کلمه د خدای بوی جاری پا فوا | ورکوی دوی بد پدی لاره کی ساه
څوی طره وی د اسلام پد بګړی | نه بسی ورک نوم دوی قوم لښری

زیری اوریدل دمیرخان اوفتوا اخستل د علما و

ازیری چه واوریدمیرویس خان پیغام	خوښ سو دهغو پدپیغلی کلام
بیای پیدا کړل علما د حرم	مفتی قاضی اوهم پیشوا د حرم
حال ی دظلم دگرگین کا بیان	فتوا ی وغوښتله دوی میرخان
تول علما دوین فتوای وکړه	سمی تحریر یی انشای وکړه
چه دظالم دظلم رفع ږدا	پدتیر چه وی دی د اسلام سوا
حاجی میرخان راغی وطن تدبل کال	قوم ی ولیدی پظلم پایمال
پدتدبیر کښیوت چه ناموس وساتی	تنگد دقوم کا پد تینگد خوندی
مشران ی ولیدل دقوم پبللا	ووی ښتی ووی دحرم ماجرا
دعا اوخوب اوهم فتوا دعرب	قوم ی کا دخان دښو پطلب
گرگین خبر سو چه میرخان ځکوی	وی کتله چه افغان ځکوی
ظلم ی دیر کا پر خوارانو دقوم	خان ی کا گرځ د غمخوارانو دقوم
مشران ی زاوستل پدحبس وپد بند	منافقین ی کړل پقوم سربلند

مصلحت دمیر خان او قرآن کول د قوم او بیا وژل د گرگین خان

حاجی میر خان د کا تدبیر مصلحت
پښتانه قول سول پنا موس او پدیت

لته لو قرآن د کا چه خان کا خوندی
لد جور و ظلمه د ظالم ارمغ

سیدال ناصر او بابو جان د بابی
بل بادر خان و د بادر ولس

میا جی هم راغی د میر خان پکومک
یوسف را قول کړله د سپوری هوتک

عزیز نورزی د دلارام پهلوان
گلخان بابړ د بل د نور بهتج خان

راغی لغړو د الکو د جلدک
کا ی ځوانانو د لښکرو کومک

بل یحیی خان د بل ی زوی محمد خان
قول سره یوسول چه کړی مړ گرگین خان

یونس کاکړ د کا یر غل پدگرگین
پښتو جوړ گرځیانو نا ورین

گرگین ی مړ کا قول گرځ سو گشتار
قوم کا خلاص نظلم د جور غفار

قندهار د ښو حاجی میر پهمت
قوم ی قول کا ورتی کړ نصیحت

چه ظالم د می اوس خو موږ سو آزاد
خالق دی نکا پښتون قوم برباد

پا چا ظالم د می موږ بی تو کا لښکر
نا یی چه وساتو خانونه لد شر

صفهان وک ولد لشکر و د شاه | سبا بد راسی پر رگو تو سپاه
ند بد پیشتون پریږ دی پر مخ د جهان | ورک بکا نوم ننگ د نیان د افغان
د بنمن قوی دی راسی کی اتفاق | خان موچیتو کی لیری کاندی نفاق
یقند هار کښ ی راته لکږل خانان | لکوله د قوم اختیار دار مشران
هر قوم ورکړله خوانان قوربانی | لکول د غښتلی ننگیالی جنګیالی
شل زره بچ سول پیخ دکی د بنار | گرده ولاړ و د میرخان پکښ تار
میرخان انصاف کاوپسین بږیری مشر | قوم ی وند لکه زوی او کشر
په داسی کار وکا حاجی گرندی | د پیشتو ناموس ی وکا خوندی
کال ویو سل نونس اوزر پښما | خلاص سو ظلم د گرگین قندهار
ظلم پای دی سی وران عالم | زوی پظلم څوک د وان عالم
ظلم اوږه بل سی سوځی جهان | پکښ کباب سی ستمگر ظالمان

ظالم جفا کوی پرځان ندپه بل
وین هر څوک سزا دخپل بد عمل

ذکر دعالم کامل ملا محمد عادل بریخ دا ملا صاحب پلقوم بریخ او عالم
او متورع سړی دی خلقو تد دښولار ښوونه کا پد ښوادک کښ اوسی او
طالبانو تد درس کا دده پلار ملا محمد فاضل هم ښه ملا وچه روحندرباخ کتاب
ی کښلی و ملا محمد عادل هم یو کتاب نظم کړی دی چه محاسن الصلوة ی نوم دی
او دلما محمد سایل او ثوابونه او دتارکینو عذابونه پکښ کښلی دی دایو خو
بیتونه لدهغه کتاب دلته رانقل کوم چه یاد کاروی

بیت

هغه خلق عاصیان دی چه پفرض کښی کیهالان دی
چه فرض نکاندی لقصد دوی هی شکد کافران دی
چه وای کړم ی زده ی نوی کد طعام خوړی لیوانان دی
علم فرض پر هر سړی دی چه فرض نکاته کسان دی
چه پد قصد یو طوخ نقضا کا پدوزخ کی قاستقان دی
خدایتا زه امان غواړم لدهغو چه فاجران دی
لدهغو سره مجی گډ کا
چه خاصه ایما نداران دی

ذکر د شاعر شاطر محمد طاہر عجز یا ہی د محمد علی عجز یا ہی زوی دی

پیشہ ور د کاندارۍ کا د بنکاپور سوداگر ۍ دے، او ہلندۍ خوش طبع خوان دی

طبع ی ہزل تہ مایل دہ او کلہ کلہ بند اشعار ہم وایی پکلو کلو پہ متنک کښی

د پلارہ سرہ او سیدلی او ہلندی لہ اکثر علما و فضلا سرہ وکا او علوم دینی

ی زدہ کړل د کاتب الحروف سرہ آشنایی لری د کان ی فاصلہ لرغالی نو مجلس گاہ د

وی دیارلو سرہ خوش طبعی او ظرافت کا ہسی وایی کاتب الحروف محمد ہنک چہ

یوہ ورځ ی یو یار د کاغذ راغی چہ لوم وی، محمد عمر خان پتوم لوبنگاندی

پہ قصد د طبع لطیف لشاعر او سرہ آشنایی کا او پخپلہ ہم اشعار انشا کا محمد عمر خان

لہ محمد طاہر سرہ ظرافت کا او لطیفہ نکات یو بل تہ سرہ وایی محمد عمر وویل سر کا ل

د محمد طاہر سرہ پہ مجلس او دینا یم خو پہ ہغہ اثر د مجلس نلید لکیږی او ندا الصحبۃ

مؤثر مصداق بنکارہ کیږی پدسبیل دہزل ی د اقطعہ پہ مجلس کښی وویلہ

قطعہ

وایی دا چہ صحبت کا بدی	یو لہ بلہ دیر اثر
پکلو دی مصاحب سوم	تا صحبت نکړہ مدثر

محمد طاہر چہ د طبع ظرافت پسند لری او ہسی نکات بند ادا کا ہسی قطعہ پہ جواب انشا کا

قطعه جوابیه

صحبت دیار بد کا لگو ره منکر نسی دا ش

تدد مخذ بغدشی وی اوس انسان سولی بشر

محمد خان پظرافت له محمد طاهر پوښتنه وکا چه ستا نوم طاهر دی خو مطهر ندی

محمد طاهر سی بیت ووایه بیت

زه وخان وتد طاهر یم خو وتاند مطهر

ذکر د عاشق پاکباز دانای رانه ملا محمد ایاز یغازی د دنیا تارک دی اوپرهد اودرع کښی ریاضت کا اوپطریقت کښی مریدی دمیان عبدالحکیم قدس سره العزیز کډه هم یاصل د قندهار د بنارسانکن دی مګر پیما شتو ورک دی لکوره اوسیاحت کا اوپحضور د بزرګانو حاضریږی اوپګو ښو کښی پعبادت بخت وی نقل کا چه ملا محمد ایاز پدشپو شپو ویښ وی اوپرد بنتواو غږ نه ذکر کاندی اوګډ څپل پیر دستګیر پر مخ راسی ژړا کا اوهسی وینا کا چه تا د مظاهرو د جمال او کمال نظیر م ګکد نه تښتم ملا محمد ایاز سبد آوازلری او کا کلد چه څپل اشعار پغنا سره لوکی خلق ژړ وی اودیوان داشعار وی د پیرښتین دی او نکات عارفانه پکښی ستد هسی روایت کا چه ملا محمد ایاز اکن

پغرو کبش گرزیدی او دغرو وحشی او خونخوار حیوانات ده تدضرر نرسوی ملا
عبدالحکیم چه دده شاگرد دی هسی وایی چه څومیاشتی می استاد نراعی کورته
اوزه دده پتلابش گرزیدم پغرو کبش یوځای می ولیدل دشرمبا نولوگلد چه گرزی
اویو دبله سنگولی سره اپوی ماخان پت کا اوپغره کبنی پنهان سوم چه شرمبان
ولاړل هغه خای تدورغلم اوهلتدی محمد ایاز وموند چه پدرامذ خوب بیده و
اوهغو وحشی حیوانا توهیڅ ضرر نده ورسولی بلکه وبش سوی هم نده وما چه لنخوب
وبش کا اوه واقعه می ورتدبیان کا ده وویل هغدی چه دهغدای محبت ودان وی
دحیوانا توپخا بنونه ورانیزی دحقیقی انسانیت مرتدهسی هسکده چه دحیوانیت
لاسی هلتدنرسی اوکلدنفس اماره چه دنفس مطمئنه څخه تښتی اوخانکبزی
هغسی هم دحیوانیت پدریاب کبنی لاهو مخلوقات دانسانیت سره جگره نسی
کړای اولدپرتمدی تښتی ملامحمد ایاز دشعرغونډ دیوان لری اودپرینبد عارفانه
اشعاری پکښنی جمع کړی دی چه زه می دغه یوشمیر رباعی په بیان دعارفانه نکاتو
رانقل کاندم

رباعی

ره هغه دی چه لری دعرفان برخه	دغه بند ده پر دنیا دانسان برخه
تعدنره چه ندی هیر ندعرفان وی	وری پدژوند کبنی دناتیز حیوان برخه

ولد

محبت دآب وخاک دی بی بنیاد | راسد ثکری دونیا خون آباد
کدد زرد سپینه وی دخدای محبت | پر صحرا بدی بی کرد اوره بناد

ولد

زردند خوبن کرد دانیکی ده درشتا | ملکه چابازدی تیرند پچفا
دخدای کور مورانوه پدستمو | دخدای کور دگندز ده چه وی صفا

ولد

چه دخان پغم اخندوی عاشق ندی | بغد خوک دخدای دینی لایق ندی
یا بدخان یا بدجانان کا پرستند | خوک چه خان ی نکاهیر خوصادق ندی

ذکر دلوی واعظ ملا محمد حافظ باركزی داعالم دمحمد اکبر بارکزی زوی دی

چه یقدر بد کښتند خو کښی اوسی اوعلوم مروجه ی لوستی دی فقد کښی استاد دی اویجامع گانو کښی دجمعی پورځ وعظ کا نو چه واعظ مشهور سوی دی کله کله پخطبه کښی ضیل اشعار هم وایی چه تول نصیحت دی یو کتاب ی کښلی دی چه نوم ی دی تحفهٔ واعظ اوبدی کتاب ی دتقوا اودزهد وعظ ندکښلی او خلقو تهٔ ی امر بمعروف اونهی منکر کړی دی محمد حافظ واعظ پرشیتا ویلو مشهور ردی او

د پادشاه اولو یا نو پیخ کښی هم د خدای امر ښکاره وایی او لیچا پروا نکوی
پطریقت کښی دمیان نور محمد صاحب مریدی او تدریس کا دا حالا سود فقد پقدر ښار کښی
طالبان د علوم ی لد مجلس فیض سوی او په حلقه د تدریس ی حاضر وی دا وعظیه
بدلد مارا واخیستند او نقل می کړه لد تحفد واعظ شهر: چه مسلمانان ی و لولی

بدلد وعظیه

کم بخته مکوه پر دنیا د ونگون
کدی زړه عزابی د بخت گلون

کم بخته موږ یو میلمانه پر دنیا
وطن موږ دی آخر څو پر شتیا

هم بدښه بلاسی راسلام پیغمبا
نو لاسره اوکی پامان څانونه

کم بخته مکوه حرام چه بودی
چه کړی حرام سخه باطن کی دودی

اعمال ی لتولد پیغمبا کی رودی
پد لویدورخ به دی وی نوتر څخونه

کم بخته مکوه حرص قرارسد
څادرب کوه صبور پکار سد

توښد دین وړه پدی کاروبارسد
چه بی توښی نخپلیا سو دون

کم بخته مخد حرام پریږدی
خدای بدوتاند پدغضب وگوری

کدی زړه عزابی نبایسته بنی حوری
بی ځای مړ ده بی پروا پلون

ذکر نصرالدین خان اندر نصرالدین خان و محمد زمان خان زوی وی چه
پزماند کنبی دپادشاه جگاه شاه حسین له غزنی راغی او یقندهار ساکن سو
بمقتضا د طبع صافی بچه مت د صدر دوران بهادر خان ورسید او پسلک
د ملازمانو دپادشاه ظل الله منسلک سو خکه چه شجاعت او بهادری ی
پطینت کنبی وه نو پدلږ ورځو ی دپادشاه او بهادر خان عالیشان لخوا عزت
ومونده او دمستقیم طبعانو سره آشنا سو نصرالدین خان اندر پسند اشعار وایی
اوز موږ د زمانی لهورنو تانو تخلص کانه سی دیوان د اشعارو لری او نصر تخلص کا
الحق چه نصر پیزرم او بزم د نصر خاوند دی او دیارانو اوموزو تانو پسنج
کنبی مقبول پدی کتاب دده یوه بدله پیاوړکار کاږم چه نزاند دده لیاد
خالی نه وی

بدله د نصرالدین خان

دخوار عاشق ژړا مدام وی داشکار دنیا
کدوی په پند خوله همدغدی گفتار دنیا

دخوار عاشق مدعا داده که ژړا کی نا
چه ورښکاره خپله زیاخ دلربا کی نا

پهیل وصال کئی خوشحال محبوبا کی نا
بلخه نخوارئ همدغدا امیدوار دنیا

دوی هیڅوپرده خدای بل کړه اوروی دی
چه وړپیښی دی نخواریدو دیرغمون دی

نورہدآرام پدرستدشپدکاندی خوبون دی | پرجنانورہ بخشید دغم ناتاردینا
دی جنو پرزرہ رب النبی داغون دی | چہ پہ ارمان دہ نالیندزیا محزون دی
ل ژرا کاوپدنارد پفریادون دی | ہو چہ عاشق سی دہغہ کلہ قرار دینا
عاشقانوزرہ دی مات کانرغیب دینا | ہو پہ بنیبند باندی پتری کلہ جوپیښ دینا
چہ دوصال پامیدہرعاشق اوسیږدینا | کدی دانوی عاشق ہرساعت بیمار دینا
دینانوصال عین لوی اخردینا | یو خوخوارنصرلہ چیل بختہ مرور دینا
دبلیتون اوردی چہ پدہوی درسیږدینا | ہیڅ نجوپیښ دی دبلیتون کاری پاردینا

ذکر د برگزیدہ اللہ ملانور محمد غلجی مشہور دی پہ غلجو کښی توخی دی

د ملایار محمد زوی دی اوس پہ پنجوای کښ اوسی علوم شرعیدی ویلی دی
د تدریس کا پہ عمر دیر پوخ سری دی اتیا کلن اود قندہار پنا وکښی پنجہ کالہ
د نیکاندان عالیشان دحاجی میرجان دارثیوا وکړ چیونجونو استاد وا و مغو محمد زائو
تہ د سرا پردہ عصمت ی درس کا ملانور محمد اشعار ہم لری یو کتاب ی کښلی دی
پنامہ نافع مسلمین اوپدی کتاب ی احکام شرعیہ بیان کړی دی دا کتاب
ی کښلی دی پنامہ دپادشاہ جمجاہ شاہ حسین اولہ معتبر وکتابو دفقہ او اخلاق
ی اخیستہ کړی دی ملانور محمد اوس پہ پنجوای کښی تدریس کا شغلہ دشریف

او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقه محمدیه او نور مروجه کتب په تدریس لونی
دا نظم ورکړه دی په نصیحت کښی منخمس

نظم د نصیحت

تر مومن ژوندی پدین سی زما یاره | تر ژړا فریاد کوه پد څو کو کاره
استغفار رتو بد کوه دځان دپاره | تد هم څاڼ ساتد پناه غواړ لنارد

بیداری کړه پد سهار کښی زما دلدارد

زه وتا تد یو دیی کړم زما وروره | پد سهار بیداری کړه آخر وگورد
ابد تد سی پچا نکښی یا پد اوره | چه ستا حال بد په څه رنگسی لد گورد

بیداری کړه پد سهار کښی زما دلدارد

پهر وقت له مسلمان دلداری کړه | پز درسیدشد کښی دیره بیداری کړه
هم پر خپل صورت وژاړه هم زاری کړه | د اخپل څان لگد حساب ستری بیداری کړه

بیداری کړه پسهار کښی زما دلدارد

تد درمخ الا بلا مکړه دنیا کښ | داد زیان دی زما جان یقبا کښ
ستا دیر سوددی درتد راپیم څرپ راکښ | لگتا پد خلاصی دیردی پد عا کښ

بیداری کړه پسهار کښی زما دلدارد

تد دخدای لحکم مدغږوده غاړه | یک اخلاق کړه تد طلب او بند خوی واړه

تضرع کړه خپل صورت کړه وچه ناړه | تد له خوی ی جوړ سوی تن دیجا ړه
بیداری کړه پسهار کښی ز ما دلدار ه

تد امید کړه در رحمت تد ځما جان | در رحمت دروازه خلاصده ه جانان
هر سهار رحمت نازل سی له اسمان | مغفرت پسهار غواړه له رحمان
بیداری کړه پسهار کښی ز ما دلدار ه

ذکر د شاعر طریف حافظ عبداللطیف اشکزی د اشاعر پر مجمع کی د وخلاسرامدی او پیژاندگی هم پا صل د بوستان دی پلاری غلام محمد نومیدی قندهار تد راغی پد ما شور کښی اوسیدی عبداللطیف له کوچینوالی نجلیم شروع وکړه قرآن شریف ی حفظ کا او خلد پنځه طبع لطیف ی درلوده نوی ۵ پیر خوا ږه اشعار وویل مشهور کی طبع ظرافت تد مایلد وده خو بیا هم هسی حصی او حکایتو د نظم کا پیر اوریدو نکی عبرت ضحی کا او پند و نصیحت دی پیژاندگی مفید درموند کا او هر کلد مجلس د اشنایا نو پیژاندگی د ده مسروری کا تب الحروف کلد کلد دی وینی او اشعاری اروی اوس د څلویښتو کالو دی اوسیږد دی پنځمی پوړ دی خو د خوانی مسترتکا او مجلسیان ی پد صحبت نشاط بیا موی پنجا لسو کښی اشعار ارتجالاً لیولی او قصی کا فقیر کا تب الحروف د عدیوه قصه د ده پدی تذکره کښی نقل کا پر کتاب له ظرافت هم خالی نوی

قصد دسوی او داوښی

غوږ ږدینسی یارانو داداوښی اوسوی قصد سوه — څورا دیږه څوبښه سوه
یوسوی داوښی اشنا سو — بیجده ی همراسو
یاری بهی کولد یولد بلی یارانو سوه — څورا څوبښه قصد سوه
اوښی وویل چه سوی — ای زما یاره نیکخوی
بی تامی بنادی نشته شپه اووخ می پتا بند سوه — څورا څوبښه قصد سوه
قول عمری صحبت کا — دسوی سری الفت کا
شپه بی بیلتون نکا یولد بلی مرکد سوه — څورا څوبښه قصد سوه
سوی و داوښی پکور کی — څوتندون ی پسرورکی
قصد بری شروع کړه هرسهار څوبه غرمد سوه — څورا څوبښه قصد سوه
سوی تل سلمید داوښی و — دوستی کی دیر پهوښنا
هغلوی سوه سهی تینگد چه هیڅ پندبرمد سوه — څورا څوبښه قصد سوه
اوښی هم غرت دسوی کا — ساتی دابروی کا
دیارد زیږه دپاره بدمقبول ندیلمد سوه — څورا څوبښه قصد سوه
یو ووخ سوی بیلتیا کړه — داوښی دپاری دا کړه
هغلوان ی راڅرکړد سوی قول سلمید سوه — څورا څوبښه قصد سوه

اوبن راغی دسوی کورتد | یوغاری ولید پورتد
وآتنگ پدسی شان وچی ندخای یوه گونده سوه | خوراخوزه وقصد سوه
راوړی خواړه وه | یوشه وه لږ واښه وه
وا تولد چه ی راوړلد د اوبن یوه گولد سوه | خوراخوزه وقصد سوه
اوبن وړی ولاړی کورتد | نغتدی سنو پورتد
سړیا نوی نخای ندرلودی تولد شرمنده سوه | خوراخوزه وقصد سوه
سړیا نو جمعیت کا | باسوی ملامت کا
ول ستاود اوبن څدی چه دوستی سره تودسوه | خوراخوزه وقصد سوه
چه سوی اشنا د اوبن سی | باید چه لږ پهوښ سی
د اوبن د پاره ښایی چه پیدا یو ماتد سوه | خوراخوزه وقصد سوه
هر څوک چه یارانی کا | چه پیل کا پیلخانی کا
هر چا لد خا سبد اشنایی او طریقه سوه | خوراخوزه وقصد سوه
چه څوک مناسب کار کا | عبرت لدی گفتار کا
لد پخل تغره سمد د هر چا پند را اوږد سوه | خوراخوزه وقصد سوه

٥ ٥ ٥

ذکر د رستم دوران سپهسالار عالی تبار زبدة الزمان سیدال خان ناصر

محمد هوتک د الف خان ناصر روایت کا چه سیدال خان د ابدال خان زوی او

باری زی ناصر دی چه پلاری او سیدی پد ډیلد کښی چه دوازیخوا پسر یوځای

دی هغه وخت چه سلطان ملخی توخی استقلال ومونده اولد غزنی تر جلد ک

ی حکومت کا نو باری زی د ابدال خان سره راغلل او پد التخری سکونت وکا

د ابدالخان د عادل خان توخی سره پد هغه وقت له بیګلربیګی سره د قندهار چه د

صفوی پادشاه لخوا د جګوند وکیل اوندی پریښو چه پر کلات حکومت وکا

سیدالخان چه د تګړی پلار زوی و لیسخاوت او شجاعت زبده د روزګار سو

او هغه وقت چه حاجی میرخان علیین مکان پقندهار کښی گرځین خان بیګلربیګی

د وازه سیدال خان ناصر د پښتو د لښکر د سپه سالار واو د نو ستلی وه علوم

مروجه لکه فقه تفسیر وفصاحت حرف ونحو او فارسی کتب چه د میر ویس خان پرونه

حکمی د صفوی لښکر د قندهار د خلقو انتقام تد راغلل نو سیدال خان ناصر

د حاجی میرخان لخوا د پښتو سپه سالار واو خو واړه ی د صفوی لښکر چه تر هغه

تیر د و وژل پدی لړ لو جنګو سیدالخان غالب او فاتح واو پد (لاوړی) او شجاعت ی

شهرت وکا په حاجی میرخان علیین مکان وفات سو نو سیدالخان عالیشان
وشاه محمود سپه سالار سواوپرا اصفهان ی یرغل وکا دصفو یانو پرلته تو
میدانو غالب او خاتج سوخری اصفهان فتح کا او دښمنان ی مقهور دی
نقل کا په سیدال خان ناصر په سخه وقت چه په جنگو ی گرفتاری ښه وه
اولد حیص وبیص ی فراغ و اشعاری ویل او دعشق سندرهای کښلی اوس
چه په مهما قودامور په اصفهان کښ بخت دی دشعر ویلو فرصت ی نشته
او درځی ی تبریزی په سپی جنگو چه رستم هم ځنی زار کا دسیدال خان
له اشعار و تخ دغه بدله پیغزاند کښ کاښ م په داکتاب دوه له ذکر خالی
نوی او دوی خان عالیشان بذکر مزین وی

بدله د سیدال خان عالی مکان

یار مالد سی گرانسو + راتیر تر لته ول بهانسو
نو رنده وینم پیتر لو + بهان قول راته جانان سو

وی زلفی داوبه دی کړی پرمخ د راخیری کړی
سړی اشرپی دپه تندی باندی سپری کړی + گرزی پباغ گښی پگلو نو کښی نخری کړی

په اوردوسوم یاره راته اور تانه بوستانسو

مین چه اشنای مکا ... شپیدو رنځ به کړیا نی کا

شهی دوستمگاره خو شحال زړون بزنځی کا + لندی لری دور خپو دبا نو غشی کا نه کا

پرمارمی گوره طلقد دلبر دتیر نبان سو

مین پرلو یو غرو ځی ... سرتور پدنیمو شپو ځی

دوزی لاروطن وطن پریږدی ... پرچولوځی + فریاد وناری وکا پنا وړین پدخلیږو ځی

وصال کی نصیب نسو گوره زړه کی پدارمان سو

ناری وبهم عالم ... دشپی تر صبحدم

ناتوان دبلیتون یم یوگړد نلرم دم + بیتابی نفس نقری راځ زما دزړه بند

نظر پرما غریب کړه چه تاخون می تاپلی نسو

شبنم پر گلو ښکاری ... زما اښکی داری داری

خو ناب ځی ستا لغم زما پدمخکی لاری لاری + تمام شپه لم تیره پتړ پتړ اپناری ناری

ښکاره سوه چه محبوب یم لیونو توب می اوس جبا نسو

بوستان ښکلی زیادی ... رنګین پداو ښکلو زمادی

دزړه پرا بر گلونو دی چه بلبل پتماشا دی + پمینه تی زړه وشاوده ی قدوایی چتلا دی

تلی دبلیتون یم زه سیدال امو بیا نسو

درېمدنخزاند پدبیان د ښځو چه شعرونه ی ویلی دی

ذکر دعصمت پناه نازو توخی ښی نقل کا چه نازو د سلطان ملخی توخی لور وه
چه تولدی پد سنه ۱۰۶۱ هجری سغدځای تر نزدی وچه تازی نومیږی سلطان ملخی
پد سغد وقت دغزنی تر حلدک داقوا مو مشر و او پد استقلال ی حکومت کا معارض
او ساری ی نور لود او نازو پد کوچنی والی لد میرمنو د پښتو او سپین بږیرو علماو څخه لوست
دکا او میړه مخی ارتیندوه چه نا رینډی میرانی او شجاعت او سخاوت تد یران و
روایت دی لد ثقد راویانو چه سلطان ملخی د سورغره تد نزدی پجنګ کښی د مړ
او صاحبی عادل چه د نازو د ورور و د پلار پا انتقام جنګ تر ولاړ کلا او کوری نازو
تر پریښو او پسغد وقت نازو توره پملاکړه او د جنګ لپاره انا نوسره ی
کور او کلا لد تا پاک د د بسمنانو د ساتل ما تد ضیل پلار حکایت کا چه نازو انا
پد میلمستیا او غریبانو سافرانو چه پالند معروف وه او هر وقت چه پدژمی بد د
سافرانو قافلی راغلی د نازو پر کلای اړول پدسوه سوو میلمانه بدی روز ل
او د ی تری د وډی ورکولد چا چه بد کالی ندرلود لباسی ورکاوه
او د سخاوت نوم ی لد خیبر تر کوسانډ خپور سو نازو پجلالد د بنالم خان

هوتک وه چه د کرم خان ؒ واو د هیوتکو سبا لم خیل چه سن درې پادشاهی د قندهار او
اصفهان د دوی، وه لدی شجرې څخه ذی او نازو خلور زامن درلود چه مشر ی
حاجی میرخان او نور عبد العزیز خان او یحیی خان او عبد القادر خان د ی
سی روایت کا محمد کاتب الحروف لنجتل پلاره چه نازو انا عابده صاحبه وه او خپلو
زامنو ته ی بقول عمر پدا و د اسد شیدی و رکړل او چه علیین مکان حاجی میرخان
تولد سوخرب ی ولید چه شیخ بیقی رحمة الله علیه ورته وایی دا زوی ښه تربیت
کړ چه لوی سی لوی کارون بد و کا او پر زیارت د بیت الله بخان مشرف کا او د سل
به ی پیدا سی پادشاهان چه دین بروبن ن کا نو حاجی میرخان چه وزیږیدی مور ی
پدیانت او عبادت سره لوی کا او دوین فرایض ی بقول پر اوسم کال در درسنو ول
او هر کلد به ی وه ته نصیحت کا چه زوید د شیخ بیقی نیکه قدس الله سره بقول ستا پیر
ښې دی لوی کارون نو چه لوی شی د خدای عبادت او د خلقو خدمت کړه ته
خدای پیدا کړی ی دی دپاره چه لوی کارون ترسره کړی او خلق الله پخدمت
ستا آرام وکا روایت دی چه حاجی میرخان علیین مکان بد هروقت ویل چه
زما عمر ماته ډیر یو کارو د کولو وصیت وکا زه باید سی کارون وکړم چه په
سنه ۱۱۹۲ الهد هجری ی توسم ذلک تولد ظلم شوره نوی مجده دشکر وکړه او وې

خدای داسخه کار و چه ماته مورسپارلی واو وصیت ی کړی و داخرتا د عبادو
او بندګانو خدمت وچه ماتر سره کا زما پلار سی وویل چه نارو انا علاوه پر سخاوت
او شجاعت او عبادت سی ارتیند وه چه د خدای تعالی څخه ډیرې مناجات ی د ډیر
اشعارو یل او یو دیوان ی درلود چه دوه زره بیتونه پکښی وه او پښتو ی بندګانو
اداکړی او داسی ویلی وچه نارینو ی هم فسی ویلای او د غه رباعی چه دنارو
انا ده ماته خپله پلار (روید لی وه الحق چه بنه رباعی ده

رباعی

سحر گډوه د نرګس لیمه لانده | | څاڅکی څاڅکی ی لسترګو څخیده
ما وویل څه دی کښلی ګلونو ترڅار ی | | وه ویل څرونده می دی یوه خوله خندیده

رحمة الله علی الماضین کلهم الی یوم الدین

کړد د شهوار عصمت لیمه حافظ د لیمه د خان علیین مکان خوشحال خان
خټک لور وه چه د عبدالقادر خان خټک سکاډ خور کیده زما پلار سی روایت کا
چه زه بنو ته د ولاړم چه هغه وخت واپښتنه څرونده وه او د خپل پلار پدڅرونده
روجد علوم د لوستل او بیا د شیخ سعدی لاهوری رحمة الله علیه مریده سوه او
خپل پلار چه عبدالقادر خان ید لاس ی بیعت د کا چه هغه هم د شیخ د وران

خلیفه

خلیفه د روایت کا چه حلیمه بی بی فاضله او عارفه جنجۍ ده او په سرا پرده د عصمت ناستده ده میړه ی مذی کړی او د خالق عبادت کا او د خپل د رور عبدالقادر خان پکور کښی لوړو نجوګو تد لوستل کا او قرآن عظیم ی هم یاد دی زما پلار و ویل چه حلیمه بی بی ما په پښتو سبدا اشعار هم وایی او پخپل عصر سره امداقران ده او موږ و نان د پښتو ی اشعار خو بنوی د تصوف او طریقت کتب ی ټول لوستلی دی او سی وایی چه مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت امام ربانی قدس سره حل کړی د حلیمی په اشعارو کښی مجازی عشق د زنګاری بلګه قول شعر و مذی د حقیقت پرلاړی او د محبوب حقیقی صفت کا د غه یوه بدلدی زما پلار ما تد و ویل چه پخوا نو کښی دا خلوم رحمة الله علیهما

غزل

دا ثنای لطف خو بنده سهی شان شوم | څنو هیبت م چه ممتاز کد نور جهان شوم
چه ی کړم مدحتا پخپله سر فرازه | ثنا خواند پخوا زنګد درجان شوم
چه مجازی دا یاز د لاړی لزه ند | سر بلنده تر محمود غزنوی سلطان شوم
د هر چا وتد چه گورم وایه دی دی | د جمال په نندارو ی شادمان شوم

غیر فکری لزړه ندرا بهر شو | | پر خلیل د پرعلد و باندی یکسان شوم
حلیمی دغمازکر زیات لحد شو
چه دی بیل بیاره نکاپه گمان شوم

ذکر د عارفد کاملد بی بی نیکبختد داعصمت پناه او عارفد دالله د شیخ
الله داد لوروه یقوم محوزی چه پداشنغر کښی کورنی اوپلار نیکد دمن زیو
مرشدان وه هسی وایی کاتب الحروف محمد چه زما پلار روایت کا چه شیخ
امام الدین خلیل غوریا خیل پخپل کتاب اولیای افغان هسی کښلی دی چه
شیخ الله داد لوی ولی و اولوری نیکبختد چه بحقیقت هم نیکبختد عارفد صحنه
وه علوم دینی ی ولوستل اوپریاضت او عبادت د خدای عزیزکا په
سنه ۹۵۱ هجری پدحیالد دنکاح شرعی د شیخ قدم قدس الله سره راغلد
چه دخواجه محمد زاهد خلیل متی زی زوی و او عارفد د خدای و پد
سنه ۹۵۶ ی لدبطن غوث الزمان قطب دوران شیخ میان قاسم افغان پد بدنی
نس پیدا سو او دا شیخ بمعرفت د خدای شهرت وکا چه پد هند اوپښتونخوا
مشهور سو نقل کا چه شیخ امام الدین هم د دی عرفا لداولاد دی او دی
پکتاب داولیای افغان هسی کاږی چه بی بی نیکبختد چه د خدای عارفد اورالعد

د

د زمانې دې یو کتاب ی کښلی دی چې نوم ی دی ارشاد الفقرا او پدې کتاب ی سې نصیحتونه لیکلی دی، چې فقرا او عباد الله تدې مفید دی دا کتاب په ۹۶۹ هجری تمام سوی دی او زما پلاری نسخه لیدلی وه پدې نسخه کښې هغه وخت چې دې قلمی و پسغږ دې نسخې ځای د غه شعرونه نه وه نسخه کتاب ز ما د پلار پیاوړه وه چې ما دلته ځنې نقل کړل چې کتاب می پدې کړ د عارفه دوران رنګین وی

مثنوی پدې نصیحت کښې

پزړه بنا دشی ای مومنه	ظاهر پد باطن سپینه
ظاهر زهد پا خلاص کړه	پزړه تینګ شد لد یقین
شکر صبر پرهر حال کړه	خودنمای مشد خودبینه
پشد و روح بد پژړا یی	کد خبرشی لد سجین
سجین ځای د خودنمای	دې نماز او دې دینه
لد هغو ځا امان راکې	یا اله العالمین

بل نصیحت د لیها ایضاً

د خدای حق تد غاړه کښیږده	نوری نوری د ینا پریږده

دنیا پاقدلد ہرچادہ | پا خلاص کی خنی لیبزدہ
فتوقوت لری پیخا نکی | سردیار پرضا کنبیزدہ
خان لبد خویدژغورہ | زرہ پذکر دیار بلیزدہ
کل دنیا بد دسبند شی | اوس لبیری خنی ریبزدہ
بتول غواړی حسابونہ | کد داوښی کد دمیزدہ
دنیا ترک ہمہ کړپوہ یی | دلقا پرلوری پیښی بزدہ

ولها ایضاً رحمها الله

پطلبی ودریبزہ | پخدمت ی ہوسیبزہ
لجملہ بدونفرت کړہ | دښکی تد ولاړ یبزہ
پدښکی کښی اخلاص کړہ | بدی مکړہ و پو ہیبزہ
پرګناہ لدوار وسترګو | دباران پدود وریبزہ
پہ پارب العالمین | لګناہ راتیریبزہ
خدای برحم بتاوکا | پزاریو تد ژړیبزہ
بی پرواو خدائیدمشد | لدغضب و ویریبزہ
برغدفعل پہ ی حق دی | پطلبی و بښوریبزہ

ذکر

ذکر د میرمنی د حسب او نسب بی بی زینب اطال اللہ بقا ئہا

بی بی زینب د حاجی میر خان علیین مکان لور وہ چہ لہ کوچنیوالی ی

پہ حرم کی د عصمت او عفت لوست و کا پہ لہ بغدہ چہ قرآن کریم ی

ولوست د احکام اسلامی او فقہ کتا بونہ ی ہم ولوستل او د فارسی

مشہور کتب ی ضبط کړل استاد علوموی ملا نور محمد غلجی دی چہ د دیر

عمری مخدرا تو تہ د حرم درس لوستی دی ہسی روایت کا چہ بی بی زینب

د دیرہ ہوښیارہ او پیہمہا لوڅ د امورو عالمہ پیدا شوہ د او د پادشاہ

شاہ حسین پا مورو کی تدبیر کا او ہر کلہ پرای صایب مشکلات د امورو حل کا

او پادشاہ د زمان ی پہ خبرو عمل کا او د نصایح ی اوری د او در مشہور د صدر عصمت

سنبلہ شعرون ہم وایی او د موزونالو او شاعرانو قدر کا د د او مین د

شعرا ہر کلہ لولی او د مضامین شیرین ی کام شیرین کا عمر لہ عبادت

خدای او تلاوت د قرآن شریف تیر وی او مخدرا تو د حرم د پادشاہ

تہ د درس او کښل او لوستل ورښی نقل کا چہ د شاہ محمود رحمت مکان

د مرگ حال قندہار تہ راورسید نو د پادشاہ خاندان عالیشان لہ ډول غمجن

د لمخه رالتو د هرم ساندی او غلبلی کا بی بی زینب چه واقعه دورور د
وفات واوریدله د ډیره غمجنه سوه او په تلاوت د قرآن اولما نحه ئی
تسکین وکا د تسلی ډیره اوهسی ویرندی پویږد خپل ورور مرحوم دوبیلد
چه زه ی دلته نقل کوم خدای تعالی دمتوفی نامدار عالیشان د پادشاه
ظل الله ژوندی دلری اوخوښ

مرثیه د شاه محمود جنت آشیان

بخ سو چه ورور تیر لدنیا سونا — قندهار واړه پژ ړا سونا
زړه می پویږ کی مبتلا سونا — چه شاه محمود لما جلا سونا

دارونو جهان راند تورتم دنیا + زړه د بلیتون پتیخ کړم دنیا
هونک غمجن پدی ماتم دنیا + دیا پهی تاج مو برهم دنیا

چه شاه محمود تیر لدنیا سونا — قندهار واړه پژ ړا سونا

خوان ومیړه دتوری جنګ ونا + دلاړ د کامم پنام ونګ ونا
دښمن لره پونیو رنګ ونا + پرمیدان شیرو یا پلنګ ونا

افسوس چه مرګ دده پنجوا سونا — قندهار واړه پژ ړا سونا

محمود ندیوازی خور ژاړی + پر مرگ د پتول کلی کور ژاړی
خپلوان لاشه پاچا دورور ژاړی + لښکر سپاه د پلی سپور ژاړی

پښتون د پتول پوا د ویلا سونا قندهار وایه پټ را سونا

اصفهان پاتد تاج نشور عالم + چه شاه محمود سونن پکور عالم
د پښتون لمر سو تیاره نور عالم + راتلد دښمن بلا پیغور عالم

چه پاچا ولاړ پښتون گدا سونا قندهار وایه پټ را سونا

لښکر سو خپور پښتون ولاړ دی اریان + پښاور و خای کاشاه محمود عالیشان
پاتد سو تخت و تاج د پتول اصفهان + زړه ی را سو پر سو کا خوښی د دښمنان

وایی پښتون اوس بی پاچا سونا قندهار وایه پټ را سونا

اسمان بیاد څه ستم کا څرگند + د شلاوه تا چه د پښتون د پیوند
د دښمن د بیا زموږ د پویر کا نور سند + چه شاه محمود د کا پقبر کی بند

پر کور مو د یر شور و غوغا سونا قندهار وایه پټ را سونا

هو تکو ژاړی شاه محمود څه سونا + پښتو ستاسی لوی سپاه څه سونا
د اصفهان تر فراه څه سونا + پاچا چه وحشمت پناه څه سونا

د پښتو پر تم فنا سونا قندهار وایه پټ را سونا

محمود خوان دی ولی ولایی لتا + لتخت وتاج تد پرشه سوی جلا
اصفهان ولی پاتد سونا لتا + سرد راپورتد کره پ ٹھکری اعدا

دښمن ولاړ بیا شاوخوا سونا قندهار واړه پښ را سونا

اوږم ناری دغم چه کړین فریاد + پښتون پیرګ دشاه محمود سوبرباد
زړون چه تل ټوبادښمن سوفانباد + دساندو بغ دی چه راوړین ماد

ماتم زده پیر و برنا سونا قندهار واړه پښ را سونا

وروړ مقدد شاعولاکی جنت + دردکی تاتد پسله مرګ راحت
روح دده شاد پلوی ورځ دقیامت + مخ دده روښ دخدای پیغمبر ورحمت

دخالق رحم تل پرتا سونا قندهار واړه پښ را سونا

ګرد شاعره برګزیده زرغوند زرغوند دملا دین محمد کاکړ لورده پدپنجوای
کښې اوسید د اوپلارۍ دکا تحصیل دعلم سوا و دفصاحت احکام ی زده کړل
او دفصحا و اشعاری دلوستل زرغوند پجبالد دسعد الارخان توزی وده چه توریالی
زامنی ځدلود او بتول دعلم و هنر خاوندان و ماته سی نقل دکا زما پلار چه زرغونی
دشیخ مصلح الدین سعدی رحمة الله علیه کتاب دبوستان بتول پښتو شوه نظم کا او نوم

بایزید پشکر کنبو سو | دهفل مخ پد پاگید وسو
پهدزه وریم دبل اور | چه پاور کی سم نسکور
لدایرو بدخه بدورم | یابدلبز شکوه کوم
هوپو با نوخان ایری کپ | لدلوینی خان پریکپ
څوک چه څانتد گوری تل | خدایتد نسی کړای کتل
دیې تل پگفتار نده | لوخبره لپکار نده

تواضع بد سرلوړ کا
تکبر بد تل خوار کا

ذکر دعفت همراه رالبعد حال ددی شاعره ماتد ندی معلوم سوی خو لږ څه چه پدښکاره ده هغه هسی ده چه دا شاعره دقندهاره اوپه دربار د محمد بابر پادشاه ی ژوند کاهسی وایی چه دا شعاری دیره دیوان ی درلود دغه یوه پهله رباعی ماتد صدیق اورفیق محمد طاهر بجریانی وویلد

پهدزه ی دلته پنځه اند رانقل کوم

رباعی

آدم ی محلی وتد راستون ۴ | پاور دعلم ی سوی اړون کا
دوزخ ی روغ کا پرمخ دمحکمی | قوم ی دبغدد لندبلیتون کا

خاتمه کتاب په بیان د حال د کاتب الحروف
حقیر فقیر محمد بوټا ـ مولف د دی کتاب

[illegible] ای محمد زوی د اود خان زوی د قادر خان بقوم بټوک چه زمونږ کهول
اصل ځای مرغده وه چه زما نیکه قادر خان لهغه ځای راغی سیوی ته او بسته
د وسیدی بسله څوارلس پدیتا شاد نصیب او قسمت راغی او د قندهار پخوا کنو
لیکلی د کوکران استوګنه کوله او پیشه ی د زراعت تا د رخان د پدر عمر ی
ویښ د ۷۶ کالو پد ۱۰۵۸ هجری ونات سوا او پدغه کهی چه کوکران
لومیړی ښځ سو زما پلار چه داود خان نومیږی پکال ۱۰۲۹ هجری پدغه کوکران
زیږیدلی او پدآوان د صباوت ی علوم لوستلی او پخپل عصر پر مروجه

او فضلا و علماو د نامه ښاونده او د پدغری قندهار تللی او د کسی خزان او بهار

او دیرش او پیښور او لوزر ځایونو کی لیدلی و هغه وخت چه خان علیین مکان حاجی میر خان پخپله با رکښ د گرگین خان سره جنگونو کی لوز زما پلار هم پدغو جنگونو کی ملگری و د سره ځکه نو له قدیم زما معرفت لری خاندان دیردی او اخلاصی لرم پزده پیښه ۱۱۲۶ هجری په رصفری پادشاه لښکری پرخپل باندی راغلی نو د جنت مکان حاجی میر خان لخوا زما پلار د ولایت او پلرزاد اوستیانو او ملتیانو او لوزر و ځایونو پښتانه د حاجی میر خان مدد ته راوغوښتل او له هغه پښتو سره ی مرکی وکړی او دیر پښتانه د لوندو او بارگزو او اسحق زو ی لگری کړل د خان او پرخسرو خان ی پرغلو کا او پدغو جنگونو زما پلار د حاجی میر خان جنت مکان لخوا سپه سالار و پسله وفات د حاجی میر خان مرحوم مغفور زما پلار په ۱۱۳۶ هجری وفات سو او پکو کران د خپل پلار سره پنځه سو د غه مرحوم رحمة الله علیه طبع مستقیم درلوده او کله بی شعرونه هم ویل چه دلته تیمناً ده ی دوی رباعی راوړم او دا رباعی پصفت د تجنیس بی نظیر دی او پدې فصاحت هم مثل نلری

رباعی

چه د چا پزړه کی اوږدمینی بل سی
پداور بل ی لمبی گډی حال ی بل سی
اوږدمینی گلدمری د زړه لامینی
داور بل مینه گډ تل د زړه تپل سی

رباعی

رباعی والد ایضاً رحمه الله تعالی

کدی وینی وینی تل څانځی له زړه وتخه څوک پیدا وینی تا له څو انو یاد ړه وتخه
د زړه له زړه کدی وینی وینی څانځی پدکړو د غم لویدلی ستا له کړه وتخه

اوس چه دی لږ حال د پلار او نیکه وکیښ نو څیل حال هم کا یم او د خزانی لیدونکی پیغمبر وم زما راتګ دی نا بودی د نیا تر یعنی قرلدی واقع سوی و په ۱۱ د رجب المرجب سنه ۱۰۸۴ هجری پکو کران کښی اوسن تر د تمیز ورسیدم نوی پلار د درسی راته شروع کا او تر اتلسم کال مې د عمر می د لوستل احکام د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او بیان او معانی او نور چه زما پلار مرحوم وفات سو او زه پدتقاضا د پادشاه ظل الله دامت سلطنته شاه حسین را علیم (قندهار) ر بنا رته او مړ او سمه پدنظر کیمیا اثر د پادشاه اسلام پناه دیم او هر کله پا حسان او مرحمت د دی خاندان عالیشان ر ملنه دیم عمر می تیر ی پلو متلو او کښلو وکښلو او لوستو د جهان بلد بهر نلر او د زړه می هم خوښی نکا ښلی د اشغالو په بل څه پدی او قاتو د عمر چه می تیر کړ ی هر څو کتابونه می وکښل چه یو لد د غو څخه د غه خزانه ده او نور دادی یو کتاب

کښلی دی په بیان د علوم د فصاحت چه خلاصة الفصاحت بالدسی اوبدل
کتاب می قول علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتو طالبانو د پاره خلاصه کړل
بل کتاب ی کښلی دی په بیان د طبابت او علاج چه خلاصة الطبی نوم دی په
سنه ۱۱۳۹ هجری چه می د خدکتاب د پادشاه عالم پناه مدظله مخ تدپښی کا
سل طلاوی ی ماته صله کا او هر کلمه د اسی مراحم د پادشاه د دی فقیر غریب پیچ
پیردی او ارکان د دولت ابد مدت هم پردی فقیر د رحمت نظر کا خاص بیا
د هادرخان عالیمکان چه من د رحم پقند ار د غرباو پرسر ظل د رحمت دی خالق
دی عمر د پیر کا مالدلیو دیوان د اشعارو هم ستد چه په دی وقت کی مرتب او مدون
سوی دی او غزلونه او قصاید او رباعی لری کلد چه د طبع قاصر میل د شعر او وینا
کا شعرونه کا ب هم او موزونان د روزګاری خو ښوی ګکډ چه د خان ستاینه
سبه نده او پوهان لدی کار عار کا نو پخزاندګی می خپل احوال وکښل چه
د دی کتاب و یونکی ماته دعا وکا او هر وقت می په دعا یاد کا خپل دیوه غزل
هم دلته د ښوښی پطور کا ب هم چه پر صفحه د روزګار ـ یادګار وی نور
د اشعارو پلو دیوان کښی یوځای دی شایقان د علم او شعری د دیوان لولی

غزل د کاتب الحروف غفر الله ذنوبه

ساقی پاخذ دسره ملو دک یو جام را
ستا لغم نا آرام یم آرام را

بیلد میبود بهار ستوری څکیم
پیرلی سو د خوښی بند پینام را

د دنیا پاتد ده بنادی مو یو گړی ده
یو گړی می خوښ کدمی گړی انعام را

د بلیتون پتاریکو کی مخ پرهیشن سو
رنا لمر د جام د میو نپلام را

ناکامیو د دنیا می کام را تریخ کا
چه می خوښ کا کام ترخه د ما ناکام را

نه نشاط ستنه نه مستی ستد سر نه دی شته
څه سم رند بغداد او بد علی الدوام را

پاو بوی سو د زیگی لږ څه را انود کد
محمد تد اورد ک یو سی جام را

تمت الکتاب بعون الملک الوهاب اللهم اغفر وارحم لکاتبه وقارئه ومن له حق علینا
والصلوة والسلام علی رسوله وعلی آله واصحابه اجمعین کتاب تمام سو
پورځ د جمعی ۲۴ د شوال المکرم ۱۱۴۲ سنه هجری بقندهار بنی او موقف
محمد سو تک بهم فارغ البال سو الحمد لله محمد کثیر
بتاریخ دهم ماه ربیع الاول سنه یکهزار و دو صد و شصت و پنج هجری گذشته بود

از هجرت رسول خدا صلی الله علیه وسلم بدستخط حقیر فقیر التقصیر
نور محمد خروتی برای دعا بجناب رفعت مآب جاه و مرداری عالی تبار مردار
مهردل خان قلمی دیده هر که خواند دعا طمع دارم
ز انکه من بنده گنهگارم این کتاب را احقر الناس محمد عباس
قوم نای در شهر کوسته بلوچستان خاص از برای عالیجاه تجارت پناه
حاجی عبدالکبر قوم هوتکی قلمی کرده ۱۳۰۳ هجری باتمام قلمی شد